# صوبائی اسمبلی خیبر پختونخوا

## مباحثات

---

بروز جمعۃ المبارک مورخہ 2 اکتوبر 2015ء
(بمطابق 17 ذی الحج 1436ء ہجری)

جلد 15 شمارہ 62

سرکاری رپورٹ

مندرجات صفحہ نمبر


| | |
|---|---|
| 1۔ تلاوت کلام پاک اور اس کا ترجمہ | 2642 |
| 2۔ حلف وفاداری رکنیت | 2646 |
| 3۔ نشانزدہ سوالات اور ان کے جوابات | 2647 |
| 4۔ اراکین کی رخصت | 2657 |
| 5۔ توجہ دلاؤ نوٹس ہا | 2658 |
| 6۔ مسودہ قانون (ترمیمی) بابت خیبر پختونخوا سول سرونٹس مجریہ 2015ء کا متعارف کرایا جانا | 2660 |
| 7۔ مسودہ قانون (ترمیمی) بابت خیبر پختونخوا پراونشل سروسز اکیڈیمی مجریہ 2015ء کا متعارف کرایا جانا | 2661 |
| 8۔ مسودہ قانون بابت خیبر پختونخوا ہیلتھ فاؤنڈیشن مجریہ 2015ء کا متعارف کرایا جانا | 2661 |
| 9۔ مسودہ قانون بابت خیبر پختونخوا جرنلسٹس ویلفئیر انڈومنٹ فنڈ مجریہ 2015ء کا متعارف | |

| | |
|---|---|
| کرایا جانا | **2661** |
| **10**۔ مجلس قائمہ برائے ہاؤسنگ اینڈ لائبریری کی رپورٹ کا پیش کیا جانا | **2661** |
| **11**۔ مجلس قائمہ برائے ہاؤسنگ اینڈ لائبریری کی رپورٹ کا منظور کیا جانا | **2661** |
| **12**۔ قاعدہ کا معطل کیا جانا | **2662** |
| **13**۔ قرارداد | **2663** |
| **14**۔ ضمیمہ | **2670** |

# صوبائی اسمبلی خیبر پختونخوا

اسمبلی کا اجلاس، اسمبلی چیمبر پشاور میں بروز جمعة المبارک مورخہ 02 اکتوبر 2015ء بمطابق 17 ذی الحج 1436 ہجری بعداز دوپہر چار بجکر پینتیس منٹ پر منعقد ہوا۔

جناب سپیکر، اسد قیصر مسند صدارت پر متمکن ہوئے۔

---

## تلاوت کلام پاک اور اسکا ترجمہ

اَعُوذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیطٰنِ الرَّجِیمِ۔ بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیمِ۔

یٰٓأَیُّهَا الَّذِینَ ءَامَنُوا۟ كُونُوا۟ قَوَّٰمِینَ بِالْقِسْطِ شُهَدَآءَ لِلَّهِ وَلَوْ عَلَىٰٓ أَنفُسِكُمْ أَوِ الْوَٰلِدَیْنِ وَالْأَقْرَبِینَ ۚ إِن یَكُنْ غَنِیًّا أَوْ فَقِیرًا فَاللَّهُ أَوْلَىٰ بِهِمَا ۖ فَلَا تَتَّبِعُوا۟ الْهَوَىٰٓ أَن تَعْدِلُوا۟ ۚ وَإِن تَلْوُۥٓا۟ أَوْ تُعْرِضُوا۟ فَإِنَّ اللَّهَ كَانَ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِیرًا۔

(ترجمہ): اے ایمان والو! انصاف پر قائم رہو اور خدا کیلئے سچی گواہی دو خواہ (اس میں) تمہارا یا تمہارے ماں باپ اور رشتہ داروں کا نقصان ہی ہو۔ اگر کوئی امیر ہے یا فقیر تو خدا ان کا خیر خواہ ہے۔ تو تم خواہش نفس کے پیچھے چل کر عدل کو نہ چھوڑ دینا۔ اگر تم پیچیدہ شہادت دو گے یا (شہادت سے) بچنا چاہو گے تو (جان رکھو) خدا تمہارے سب کاموں سے واقف ہے۔ و آخرُ الدَعوَانا أَنِ الۡحَمۡدُ لِلّٰہِ رَبِّ الۡعٰلَمِینَ۔

جناب سپیکر: یہ صاحبزادہ ثناء اللہ صاحب تشریف لائے ہیں کہ نہیں لائے؟ صاحبزادہ ثناء اللہ صاحب۔ اس کو کہہ دیتے ہیں کہ، ہم پھر اس کو تھوڑا لیٹ کرتے ہیں، پھر یہ چھٹی۔۔۔۔۔

جناب بخت بیدار: شکریہ، جناب سپیکر صاحب۔

جناب سپیکر: جی جی، بخت بیدار صاحب۔

جناب بخت بیدار: شکریہ جناب سپیکر صاحب۔ دا کوم پوائنٹ آف آرډر باندې چې زه خبره کومه، تیر سیشن کښې هم ما دا سوچ کړے وو چې یره دا خبره زه د اسمبلئی په فلور باندې او ستاسو مخکښې راؤړمه، هغه دا چې دې صوبه کښې زمونږه په هغه ټائم کښې چې کومه خبره وه، هغه دا وه چې زمونږ هیلتهـ منسټر تلے وو ملاکنډ ډویژن ته او هلته ئے ایم ایس سسپنډ کړے وو او په دغې ورځ باندې د کرک ناظم اعلیٰ تلے دے، هغه هلته ایم ایس سسپنډ کړے دے، بیا زمونږ د صوابئ ناظم اعلیٰ لګیدلے دے چې په ټرانسفرز او اپوائنټمنټس باندې پابندی ما اولګوله، دغه شان د مردان ناظم اعلیٰ هم دا خبره کړې ده، زه دا عرض کومه چې پاکستان کښې خو څلور یونټه دی او څلور صوبې دی او هغې کښې مطلب دا دے چې صوبائی اسمبلی موجوده ده، اوس ما ته دا پته نه لګی چې مثال خبره کوم په دیر کښې د لا ء اينډ آرډر مسئله جوړه شوه، ما له به څوک جواب راکوی؟ زما د هیلتهـ مسئله شوه، زما د پبلک هیلتهـ مسئله شوه، زما دا بله مسئله شوه، ما له به جواب څوک راکوی؟ جناب سپیکر صاحب، زما درخواست دے چې یا خو هغه ناظم اعلیٰ ګانو له 25 کرسئ دلته واچوئ چې بیا مونږ له هغوی جواب راکوی یا مونږه چهټی کړئ چې ستاسو ضرورت نشته۔ زما دا عرض دے سپیکر صاحب، په حکومت کښې دواړه حکومتونه نه چلیږی، مونږ ته د دې صوبې د وزیر اعلیٰ اختیار، د وزیر اختیار بیا د ممبر چې کومه خبره ده، د هغې تعین پکار دے او د ناظم اعلیٰ د دې خبرو، پکار ده چې دا صوبائی حکومت فوری طور ایکشن واخلی او که نه اخلی نو هغه ناظم اعلیٰ ګانو له د دلته کرسئ کیږدی چې مونږ له جواب راکولے شی ځکه سبا Anytime په دیر کښې، په بل ځائې کښې د لا ء اينډ آرډر مسئله پیښیدے شی، داسې بل ډیپارټمنټ کښې مسئله پیښیدے شی، د هغې پته نه لګی چې مونږ له به څوک جواب راکوی؟ لهذا زما دا درخواست دے د حکومت نه چې ما ته په دې باندې

د ټولو ممبرانو خبره ده چې هغه په دې باندې خپله خبره هم اوکړی او جواب هم ورکړی چې یره مخکښې به مطلب دے چې مونږه څه کوؤ؟

جناب سپیکر: زرین گل باچا، زرین گل باچا۔۔۔۔

جناب منور خان ایڈوکیٹ: جناب سپیکر!

جناب سپیکر: جی منور خان! هم دې باندې خبره کوې ته؟

جناب منور خان ایڈوکیٹ: په دې باندې خبره کوم سر چې زه د دې متعلق لکه څه رنګه بخت بیدار صاحب خبره اوکړه، دا یو کنفیوژن دے د دې ټولې اسمبلۍ په ممبرانو کښې نو Kindly زه به دا اووایم، په دې باندې یو ایډجرنمنټ موشن، زه نوټس درکوم چې په دې باندې پراپر طریقې سره یو بحث اوشی چې آیا دا کوم پاورز یا دا کوم رولز آف بزنس چې کوم تیاریږی، آیا واقعی چې دا کوم پاورز دی، دا کومې خبرې دی نو دا ایم پی ایز چې کوم دی یا دا منسټران لکه چې کومه بخت بیدار صاحب خبره اوکړه چې دوئ ته به دا کرسئ دلته واچوؤ چې هغه هم مطلب دا دے چې یره مونږ ته به څوک Responsible وی؟ ولې چې په ډسټرکټ کښې خو هغه پیسې لګوی، نو دا دلته کښې چې کوم منسټران ناست دی، آیا هغه منسټران به مونږ ته څه Reply راکوی؟ نو په دې سلسله کښې Kindly Sir! په دې باندې زه یو ایډجرنمنټ موشن موؤ کومه، په دې پاندې تاسو نوټس واخلئ۔

جناب سپیکر: ټهیک ده جی، په دې باندې پراپر یو ایډجرنمنټ موشن راوړئ او پوره په دې باندې ډسکشن اوکړئ، پراپر اسمبلی به پرې دغه اوکړی۔ ثناء اللہ صاحب راغلے دے که نه دے راغلے؟ (مداخلت) څوک زرین گل؟

جناب زرین گل: جناب سپیکر صاحب! ما له مو موقع رانکړه؟

جناب سپیکر: ما خبرې ځکه موقع درنکړه، ما وئیل که هغه ثناء اللہ صاحب چې دے کنه، هغه نه دے راغلے، مطلب مونږه خپله ایجنډا مخکښې بیایو۔ جعفر شاه صاحب به خبره اوکړی په دې ایشو باندې، تاسو پرې۔۔۔۔

جناب جعفر شاہ: سپیکر صاحب! مهربانی، تهینک یو سر۔ سپیکر صاحب، خبره ډیره Genuine ده او Valid هم ده او زما خیال دا دے چې تر اوسه پورې رولز آف بزنس هم نه دی فریم شوی جی۔ په دیکښې دریمه خبره دا راوتې ده چې بیوروکریسی، Sorry to say it هغوی د دې موقعې نه داسې فائده اخستې ده، زه تاسو ته مثال درکومه جی۔ زما علاقه کښې یو کیس اوشو، هغې کښې منسټر صاحب آرډر اوکړو، هائر ایجوکیشن او هلته چې کوم متعلقه پرنسپل وو نو وائی، هغه اووئیل چې Who is Minister؟ زه خو د ډسټرکټ ناظم تابع یمه، ډسټرکټ ناظم چې ورته خپله خبره اوکړه نو هغه ته وائی چې Who are you, I am subordinate to the Minister، نو یو ډیر لوئې کنفیوژن پیدا دے جی په صوبه کښې یا خو د رولز آف بزنس زر زر فریم شی او ډیر کلیئرکټ بلکه پارلیمانی لیډرز د په هغې کښې کښینوی چې کوم رولز جوړیږی چې په هغې باندې سیرحاصل بحث اوشی او په دې اسمبلئ کښې د په دې باندې بحث اوشی د ایډجرنمنټ موشن تحت۔

جناب سپیکر: شاه حسین خان! ما وئیل دا زرین گل باچا به د ټولو حق ادا کړی، دے ښه دے۔

جناب زرین گل: زه وایم چې ایډجرنمنټ ئے کړئ، ایډجرنمنټ موشن ئے کړئ نو مونږ به پرې ښه سیرحاصل بحث دغه اوکړو۔

جناب سپیکر: ټهیک شو ایډجرنمنټ موشن تاسو راوړئ، هغه به پوره ډسکشن اوکړو۔

جناب شاه حسین خان: بیا به ثناء الله صاحب راشی جی، هغه به حلف اوچتوی۔ داسی ده جی چې لکه دا اختیارات نیچے سطح د منتقلئ خبری کیږی کنه، ډیر ښائسته اختیارات منتقل شوی دی ځکه چې د چیف منسټر صاحب نه د هغه ورور ته تلی دی، د امیر مقام نه د هغه ځوئ ته تلی دی، د رشاد نه د هغه د تره ځوئ ته تلی دی، ما نه زما خورئی ته تلی دی، د علی امین گنډاپور نه د هغه ورور ته تلی دی، د سمیع الله علیزئ نه د هغه د تره ځوئ ته تلی دی، دا منتقل شوی دی، که دې صوبه کښې صرف سیاسی خلق چې دے هغه ایم پی ایز دی یا د دې صوبائی

اسمبلئ، دا ایم پی ایز یا وزیران دی، نه خو ایم این اے سیاسی دے ، نه سینیټر سیاسی دے ، نه د ضلعې ناظم سیاسی دے ، نه د تحصیل ناظم سیاسی دے ، نه کونسلر سیاسی دے ، صرف ایم پی اے سیاسی دے او هر شے چې دے هغه Depoliticized دے ؟ نو په دې باندې بالکل جی دغه راؤړو ، ایډجرنمنټ موشن پرې راؤړو چې ټول پرې صحیح بحث اوکړی۔ مهربانی جی۔

جناب سپیکر: اوکے ، ایډجرنمنټ موشن۔ تاسو دا اسمبلی سیکرټریټ کښې داخل کړئ چې هغه دغه کړو۔

## حلف وفاداری/رکنیت

جناب سپیکر: جی ثناء الله صاحب، ثناء الله صاحب۔

(تالیاں)

Mr. Speaker: I welcome, I welcome Sahibzada Sanaullah, honorable Member elect and request him to stand in front of his seat to take oath.

صاحبزادہ ثناء اللہ: شکریہ جناب سپیکر۔

جناب سپیکر: ایک منٹ پہلے Oath اٹھاتے ہیں، پھر اس کے بعد۔

صاحبزادہ ثناء اللہ: ٹھیک ہے سر۔

جناب سپیکر: آپ نے میرے پیچھے، جو میں بولوں اس کے مطابق آپ جو ہے نا، آپ الفاظ بولیں جی۔

(اس مرحلہ پر نو منتخب رکن اسمبلی، صاحبزادہ ثناء اللہ نے حلف اٹھایا)

(حلف نامہ ضمیمہ پر ملاحظہ ہو)

جناب سپیکر: مبارک ہو۔

صاحبزادہ ثناء اللہ: شکریہ سر، شکریہ۔

(تالیاں)

جناب سپیکر: پلیز آپ، اوپر سے کوئی تالی مالی نہ بجائیں، پلیز۔ اچھا جی، آپ ثناء اللہ صاحب! آپ ادھر آئیں اور دستخط کرلیں۔ Now I request the honourable Member, to sign in roll of Members placed on the table of Secretary Provincial Assembly.

(اس مرحلہ پر نو منتخب رکن نے حاضری رجسٹر میں اپنے دستخط ثبت کیئے)

صاحبزادہ ثناء اللہ: سر! مجھے بولنے کا موقع دیں۔

جناب سپیکر: 'کوئسچنز آور'، 'کوئسچنز آور'۔ اس کے بعد میں موقع دیتا ہوں، وہ آپ کو دیتے ہیں موقع، آپ فکر نہ کریں، ٹھیک ہے میں، آپ تھوڑا بیٹھ جائیں، پلیز میں یہ کرتا ہوں اس کے بعد، ہمارا ایجنڈا اتنا لمبا نہیں ہے، میں آپ کو موقع دیتا ہوں پھر۔

## نشانزدہ سوالات اور ان کے جوابات

جناب سپیکر: 'کوئسچنز آور'۔ جی، مفتی سید جانان، کوئسچن نمبر 2374۔

* 2374 _ مفتی سید جانان: کیا وزیر سماجی بہبود ارشاد فرمائیں گے کہ:

(الف) آیا یہ درست ہے کہ صوبے کے مختلف مقامات پر متاثرین باڑہ، اورکزئی اور وزیرستان ایجنسی کے کیمپس موجود ہیں جن میں بڑوں کے ساتھ بچے و بچیاں بھی موجود ہیں؛

(ب) اگر (الف) کا جواب اثبات میں ہو تو:

(i) مذکورہ متاثرین کیمپوں میں بچوں کی تعداد بتائی جائے، نیز مذکورہ کیمپوں میں ان بچے / بچیوں کی تعلیم کیلئے کوئی سکول موجود ہے؛

(ii) مذکورہ کیمپوں میں قائم بچے / بچیوں کے سکولوں کی تعداد بھی بتائی جائے؟

محترمہ مہر تاج روغانی (معاون خصوصی برائے سماجی بہبود و ترقی نسواں): (الف) جی ہاں۔ خیبر پختونخوا اور فاٹا میں (UNHCR) کے مطابق جلوزئی نیو درانی اور توغ سرے میں تین کیمپس موجود ہیں۔

(i) مذکورہ کیمپوں میں متاثرین بچوں کی تعداد 21 ہزار 686 ہے۔

(ii) مذکورہ کیمپوں میں قائم بچے / بچیوں کے سکولوں کی تعداد 32 ہے جن میں:

| | |
|---|---|
| فارمل سکولز: | 20۔ |
| نان فارمل سکول: | 04۔ |
| ارلی چائلڈ ہوڈ ایجوکیشن سنٹرز: | 8 موجود ہیں۔ |

مفتی سید جانان: بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَـٰنِ ٱلرَّحِيمِ۔ جناب سپیکر صاحب! دا سوال دویم ځل دے اسمبلئ ته راغے۔ زه مهر تاج بی بی نه دا ضمنی سوال کوم چې دیکښې خو شمالی وزیرستان او د جنوبی وزیرستان د متاثرینو د کیمپ ذکر نشته دے ورکښې، دویم ځل دے دا راغے توغ سرے ورکښې دې ځلې شامل شو او دا یو

بیا نشته دے او دویم فارمل سکولز او نان فارمل سکولز، دغو کښې کوم نصاب پړهاؤيږی او دا کومو کومو کیمپونو کښې قائم دی او استاذان ئے څوک دی؟ صوبائی نظام تعلیم ورکښې پړهاؤيږی که د دې خپل نظام تعلیم دے؟ د بی بی نه دا تپوس کوم۔

جناب سپیکر: میڈم مہرتاج روغانی!

محترمہ مہرتاج روغانی (معاون خصوصی برائے سماجی بہبود و ترقی نسواں): Thank you Mr. Speaker, thank you Mr. Mufti Janan Sahib۔ Actually دا دغه چې کوم دے کنه، دا کوئسچن Directly د FDMA او PDMA سره دے خو Even then we thought که هغوی سره دے Still directly under Social Welfare دا دغه نه راځی، دا Federal Administered and Provincial Administered دی نو مسټر سپیکر! دا د هغوی سره دے خو بیا هم مونږه وئیل چې، مناسب مو او گنړله چې دا جواب به ورکړو۔ د دوئ دویم پورشن د کوئسچن دا دے چې څومره څومره دے خو په کوئسچن کښې دوئ صرف لیکلی دی چې "*متاثرہ کیمپوں میں بچوں کی تعداد بتائی جائے، نیز متاثرہ کیمپوں میں بچوں کی تعلیم کیلئے کوئی سکول موجود ہے؟*" لکهQuestion is only concerned with that او د هغې Concerned سره Related مونږه دا جواب ورکړے دے د دې سره، Even then که دوئ نه وئیل Directly UNHCR سره دے۔ What we did؟ زما خپل ډیپارټمنټ دا کړی وو چې کله دا دغه اوشو، ضرب عضب، دا خلق راغلل نو چې مونږه وزټ اوکړو ما پخپله، خان صاحب وئیل چې وزټ اوکړئ نو مونږه ماشومان لږ ډیر لیډل چې مونږه Missing وو، د سوشل ویلفیئر ډیپارټمنټ، What we did؟ سپیکر صاحب! چې مونږه هغلته د چائلډ پروټیکشن یو وړوکے غونډې دغه جوړ کړو خو هغه For sometime وو او Later on چې د خلقو واپسی شروع شوه نو مونږ هغه Closed کړو، نو To be quite honest، Directly مونږ سره Related نه دے خو که دوئ وائی مونږ به د UNHCR سره د دوئ د پاره ملاؤ شو او فائنل به ډیټیل راؤړو۔ تهینک یو۔

جناب سپیکر: جی مفتی صاحب۔

جناب جعفر شاہ: جناب سپیکر!

مفتی سید جانان: جعفر شاه صاحب ضمنی سوال دے ، زه جی ما ډیر داسې اسان غوندې تپوس کړے دے ، دیکښې څه مشکل نشته دے۔ دیکښې جی د جلوزئی کیمپ کښې د دغې باړې خلق اوسیږی او نیو درانی کښې د کرم ایجنسئ خلق اوسیږی او په توغ سرے کښې د اورکزئی ایجنسئ خلق اوسیږی، شمالی وزیرستان، جنوبی وزیرستان خلق دیکښې نشته دے۔ یو زما دا تپوس دے ، دا سوال مخکښې نیمګړې وو، بیا تاسو وئیل، ما درته اووئیل چې دیکښې توغ سرے نشته، دلته کښې لوئې کیمپ دے۔ تاسو بیا اووئیل چې دا به آئنده ته راشی، توغ سرے ورکښې شامل دے ، دیکښې د شمالی وزیرستان او د جنوبی وزیرستان د متا ثرینو کیمپ ذکر نشته۔ بل زه دا تپوس کوم چې دا سکولونو کښې کوم نصاب تعلیم پړهاؤیږی، دا صوبائی چې کوم زمونږ پرائمری ده او مډل ده، هائی ده، هغه نصاب تعلیم ورکښې پړهاؤیږی او که بل ورکښې پړهاؤیږی او دا سکولونه کومو کومو ځایونو کښې دی؟ په یو کیمپ کښې څومره څومره سکولونه دی؟

جناب سپیکر: یو منټ جی، زه د میډم نه تپوس کوم۔ دا د FDMA لاندې راځی او که د PDMA لاندې راځی؟

معاون خصوصی برائے سماجی بہبود و ترقی نسواں: زیات FDMA دی، زیات او لږ ډیر پکښې د PDMA هم دی۔ دا د ډیپارټمنټ د طرف نه ما نن بیا Re-confirm کړو Before coming to the Assembly and I asked them and they said that چې More, majority د FDMA دی او لږ پکښې د PDMA هم دی۔

جناب سپیکر: Anyhow FDMA۔ د مفتی جانان صاحب چې کوم کوئسچن دے نو هغې حوالې سره خو دیکښې مزید Query پکار ده او زما----

(شور اور قطع کلامیاں)

مفتی سید جانان: جی دا مقصد دے چې دا بچی دی که دا بې تعلیمه راستر شول، دا به سبا د ملک د شمنان وی، د دغې صوبې د خلقو د شمنان به وی۔ که بی بی خفه

کیږی نه دا د کمیټئ ته لاړ شی چې چا سره تعلق لری، کومې هغه سره تعلق لری، محکمې سره نو لږ غوندې-----

جناب سپیکر: نه، د یکښې لږ دا ګورو که دا چرته د FDMA سره تعلق لری بیا خو دا زمونږ په دغه کښې نه راځی۔

جناب جعفر شاه: جناب سپیکر!

جناب سپیکر: جعفر شاه صاحب، پلیز۔

جناب جعفر شاه: شکریه جناب سپیکر صاحب۔ ما پکښې دا وئیل چې FDMA یا PDMA دواړه خبرې دی خو اکیس، ساړهې اکیس هزار بچی، په قبائلو کښې د تعلیم صورتحال هسې هم دغه حال دے، یویشت نیم زره طلباء و طالبات او د دوئ د پاره 32 سکولونه دی نو که Calculation مونږه اوکړو نو 1500, 1600 Students per School, how is it possible? نو دا ممکنه نه ده جی، دا بله دهشتګردی ده چې کیږی Really او-----

جناب سپیکر: چونکه په دې باندې که یو جوائنټ ریزولیوشن راشی او پوره پرې تاسو یو مؤقف د صوبائی اسمبلئ دغه راځی۔ که هغه فیډرل دغه سره تعلق ساتی او که د صوبې سره تعلق ساتی، زما خپل خیال دا دے چې دا یو ډیره Sensitive issue ده او په دې ایشو باندې زمونږ یو جوائنټ ریزولیوشن پکار دے نو که کمیټئ ته لاړ شی نو هغه هومره دغه به نه وی خو جوائنټ ریزولیوشن که راشی، په دې تاسو لږ کار اوکړئ او دې باندې یو جوائنټ ریزولیوشن راوړئ ځکه چې دا هغه ماشومان چې هغه Already، په دې باندې ما یو سیمینار هم Attend کړے وو چې په هغې کښې په دې باندې کار شروع شوے دے چې کوم هغه ماشومان چې هغه Displaced دی او هغوی دې وخت کښې چې دے نو د خپل مور او پلار نه هم ورک دی یا که د هغوی سکولونه دی، د هغه سکولونو هم هغه کوالټی نشته یا سکولونو کښې نصاب کوم پړهاؤیږی، نو په دې باندې یو Concrete resolution جوړ کړئ او هغه ریزولیوشن راوړئ، زما خیال دے هغه به زیات بهتر وی-----

جناب شاه حسین خان: سپیکر صاحب!

جناب سپیکر: جی جی۔

جناب شاہ حسین خان: خو دا ریزولیوشن بہ مونږ صوبائی حکومت تہ لیږو کہ وفاق تہ ځکہ چې تاسو تہ خو لا ، تاسو تہ خو لا دغہ نہ دہ معلومہ؟

جناب سپیکر: دا Basically فیډرل سبجیکټ دے ، فیډرل سبجیکټ دے ، قرارداد ، فیډرل سبجیکټ دے۔ اوکے۔

جناب شاہ حسین خان: نو چې فیډرل دے نو بیا خو قرارداد ٹھیک دے ، بیا ٹھیک دے ، بیا صحیح دے ، بیا ٹھیک دے۔

Mr. Speaker: Next, 2401-----

جناب سکندر حیات خان: جناب سپیکر!

جناب سپیکر: جی جی، سکندر خان۔

جناب سکندر حیات خان: ما تہ پتہ دہ جی چې کوئسچنز آور روان دے خو یو ایشو دغہ چې دے ، دا منیٰ کښې چې کوم واقعات شوی دی جی، ما وئیل چې کہ زمونږہ ، دلتہ کښې مونږ ورلہ دعا اوکړو او هغې کښې چې کوم شهیدان دغہ شوی دی او یو لویہ واقعہ شوې دہ ، سانحہ شوې دہ ، د هغې لہ پارہ دعا اوکړے شي جی۔

جناب سپیکر: بالکل۔ مفتی صاحب، پلیز۔

مفتی سید جانان: جی۔ دغہ کښې جی چې کومہ واقعہ شوې دہ متنی کښې، دا ټول بہ ورکښې یاد کړو جی۔

(اس مرحلہ پر دعائے مغفرت کی گئی)

جناب سپیکر: محترمہ نجمہ شاہین، 2401، نجمہ شاہین!

محترمہ نجمہ شاہین: بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَـٰنِ ٱلرَّحِيمِ۔ شکریہ جناب سپیکر صاحب۔

جناب سپیکر: 2401 ,2400، ډبل زیرو دے ؟ دوئ خو وائی چې01 دے ، 2400۔

محترمہ نجمہ شاہین: 2400۔

جناب سپیکر: جی۔

* 2400 _ محترمہ نجمہ شاہین: کیا وزیر سوشل ویلفیئر ارشاد فرمائیں گے کہ:

(الف) ضلع کوہاٹ میں سوشل ویلفیئر کے تحت مختلف ادارے کام کر رہے ہیں؛

(ب) اگر (الف) کا جواب اثبات میں ہو تو مذکورہ ضلع میں سوشل ویلفیئر کے تحت کتنے ادارے کام کر رہے ہیں، تمام اداروں کی لسٹ بمعہ سربراہان وپتہ فراہم کی جائے؟

محترمہ مہرتاج روغانی (معاون خصوصی برائے سماجی بہبود و ترقی نسواں): (الف) جی ہاں۔

(ب) ضلع کوہاٹ میں اس وقت سوشل ویلفیئر کے چھ ادارے مختلف خدمات سرانجام دے رہے ہیں جس کی تفصیل درج ذیل ہے:

| سیریل نمبر | ادارے کا نام | سربراہ کا نام وپتہ |
|---|---|---|
| 01 | سکول برائے گونگے بہرے بچے | میر افضل خان، پرنسپل فیز ٹو پرانی بلڈنگ پرسٹن یونیورسٹی کے ڈی اے کوہاٹ |
| 02 | مرکز برائے عادی منشیات | محمد خالد بحالی آفیسر، کے ڈی اے، مکان نمبر 52 نزد کے ڈی اے ہسپتال کوہاٹ |
| 03 | ویلفیئر ہوم برائے گداگر بچے | محمد خالد سپرنٹنڈنٹ، فیز ٹو پرانی بلڈنگ پرسٹن یونیورسٹی کے ڈی اے کوہاٹ |
| 04 | نشتر سپیشل ایجوکیشن سنٹر کوہاٹ | شازیہ رضا، ڈپٹی ڈائریکٹر فیز ٹو پرانی بلڈنگ پرسٹن یونیورسٹی کے ڈی اے کوہاٹ |
| 05 | چائلڈ پروٹیکشن یونٹ کوہاٹ | عدنان اشرف، چائلڈ پروٹیکشن آفیسر فیز ٹو پرانی بلڈنگ پرسٹن یونیورسٹی کے ڈی اے کوہاٹ |

محترمہ نجمہ شاہین: جناب سپیکر صاحب! یہ میرا کوسچن ہے۔ انہوں نے، سوشل ویلفیئر کے کیا ادارے کام سرانجام دے رہے ہیں؟ انہوں نے چھ اداروں کی تفصیل بتائی ہے مجھے۔ جناب سپیکر صاحب، انہوں نے شاید اپنی آسانی کیلئے مختلف چھ ادارے ایک ہی بلڈنگ میں جمع کئے ہوئے ہیں، شاید ان کو اس میں آسانی ہو لیکن یہاں پر صرف ایک کا میں ذکر کروں گی، ویلفیئر ہوم برائے گداگر۔ یہ بچے جو ہیں تو یہ سارے گلی کوچوں میں اور سڑکوں میں اسی طرح گھوم رہے ہیں جس طرح کہ آپ لوگوں کے نوٹس میں یہ بات ہو گی۔۔۔۔۔

جناب سپیکر: میڈم مہرتاج روغانی!

(شوراور قطع کلامیاں)

جناب سپیکر: ایک منٹ، یہ کوئسچن Respond کر لیں۔

معاون خصوصی برائے سماجی بہبود و ترقی نسواں: تهینک یو مسټر سپیکر۔ نجمه شاهین بی بی چې کوم کوئسچن کړے دے ، د هغې جواب ټول I think the rest of it she has accepted it, probably. ځکه چې دا یو پکښې دې دغه اوکړو کنه The rest as she said چې کومې ادارې دی نو مونږ د ادارو نومونه ورکړی دی And then دې ادارو کښې، چې په کوم کوم ځایونو کښې دی We have given that خو She has asked the question only of the Gadagar, I think probably she wants to know, we have to clarify that چې دا نور ټول جواب غواړی او که صرف د دې ویلفیئر هوم دا ګداګر چې دے ، دا غواړی Because هغې کوئسچن هم اوکړو او ورپسې ئے ضمنی هم اوکړو کنه نو زما خیال دے زه به د هغه ضمنی جواب ورکړم او بیا As for as Gadagar is concerned ، دا صرف په کوهاټ کښې نه دی، دا په ټول صوبه سرحد کښې دی بلکه په ټول پاکستان کښې دی او Recently مونږه لګیا یو د خان صاحب د Vision according, I would say چې دا سپیکر صاحب! Brain Child دے Street Children او په دې Brain Child باندې ایکشن کوؤ، د Street Children مونږه یو پوره لویه اداره جوړؤ او ان شاء الله That will be the pilot او د ایک هزار دغه د پاره مونږه 200 flats واخستل، هغې کښې به مسټر سپیکر صاحب! You know that very well، هغې کښې به سټارټ شی، نو په کوهاټ کښې I agree with her چې دیکښې فی الحال Only 14 دی خو This is such a big problem, such a big problem، دیکښې غټ غټ مافیاز دی ګداګر سره It's not normally چې دا ماشوم راغلے خیر ئے اوغوښتو، دا پکښې مور پلار دی، دا پکښې نور دی، نو دې ته مونږه ان شاء الله تعالیٰ یو لوئے پروګرام شروع کړے دے And let's hope چې هغې کښې مونږ کامیاب شو۔

جناب سپیکر: جی میڈم!

محترمہ نجمہ شاہین: ٹھیک ہے، ٹھیک ہے۔

جناب سپیکر: کوئسچن نمبر 2401، محترمہ نجمہ شاہین۔

(اراکین اسمبلی رکن اسمبلی ارباب ایوب جان اور دیگر فوتگیوں کیلئے فاتحہ خوانی کروانا چاہ رہے ہیں)

جناب سپیکر: مفتی صاحب خو زما خیال دے اووئیل خو مفتی صاحب! د ارباب ایوب جان او د بدھ بیرې د واړو دغه د پاره دعا اوکړئ۔

مفتی سید جانان: ارباب صاحب خوجی د دې ایوان یو ډیر عزتمند ممبر وو، اللہ رب العالمین د مغفرت نصیب کړی۔

(اس مرحلہ پر دعائے مغفرت کی گئی)

جناب سپیکر: نجمہ شاہین، پلیز۔

* 2401 _ محترمہ نجمہ شاہین: کیا وزیر سماجی بہبود ارشاد فرمائیں گے کہ:

(الف) کوہاٹ میں ہلال احمر کی جائیداد موجود ہے؛

(ب) اگر (الف) کا جواب اثبات میں ہو تو پرانا جیل روڈ پر موجود دکانوں کی تعداد، دکانداروں کے ساتھ معاہدہ اور موجودہ کرایوں کی مکمل تفصیل دکان وائز مہیا کی جائے؟

محترمہ مہر تاج روغانی (معاون خصوصی برائے سماجی بہبود و ترقی نسواں): (الف) و (ب) چونکہ ہلا احمر کا اس محکمہ سے کوئی تعلق نہیں ہے، لہذا پرانا جیل روڈ کوہاٹ پر موجود دکانوں کے بارے میں معلومات بھی محکمہ ہذا کے پاس نہیں۔

محترمہ نجمہ شاہین: شکریہ جناب سپیکر صاحب۔ کوئسچن ہے 2401۔ یہ انہوں نے اس کا جواب دیا ہے کہ چونکہ ہلال احمر کا اس محکمہ سے کوئی تعلق نہیں لیکن پرانا جیل روڈ کوہاٹ پر موجود دکانوں کے بارے میں معلومات بھی ان کے پاس نہیں ہیں۔ جناب سپیکر صاحب! میری معلومات کے مطابق ہلال احمر کا سیکرٹری جو ہوتا ہے، وہ ڈسٹرکٹ سوشل ویلفیئر کا آفیسر ہوتا ہے اور اسی کے اندر تمام وہ اعداد بھی موجود ہیں اس وقت اور تمام فائلیں بھی اور تمام کرائے بھی وہ وصول کرتے ہیں۔

جناب سپیکر: جی میڈم!

معاون خصوصی برائے سماجی بہبود و ترقی نسواں: Thank you, Mr. Speaker. Fortunately or unfortunately سوشل ویلفیئر یو داسې اداره ده چې د دنیا کوم ځائې هم کوئسچن وی نو هغه راځی د دې سر ته راځی۔ Actually دا دغه چې دے، دا MCH سنټرې دی، Regarding this thing It's not the Social Welfare دغه، درې سنټرې دی MCH And it's run by the Deputy

زمونږه ډی او چې دے ، هغه Commissioner of that area and of course سیکرټری ضرور دے خو For any account to run, you are to have two signatories, not one. نو Similarly زمونږ دا ډی او د هغې Co-signatories دے۔ The rest د دې چې کوم دغه دے ، دا یو انګریز کړے وو، هغه د خدائے اوبخښنې څکه چې یو ښه کار هغه شروع کړے وو (قہقہہ/قہقہے) د بنده زړه دعا اوکړی کنه چې ګنې Honest to God when I read this دومره مونږ مسلمانان چې کوم کارونه نه کوؤ، هغوی کړی دی That is in 1948، په 1948 کښې هغه 'میرم انډر' دا دغه شروع کړے وو یو سنټر Maternal and Child Health Centre (MCH) and nothing to do with Social Welfare at all and now they have four centers running. Deputy Commissioner is or DO is just the co-signatory of that، دا 800 rupees per month شوے وو، اته سو روپۍ میاشت باندې، دیکښې Round about 25 Shops دی خو Recently چې کوم کمیټیز جوړ شو، هغوی اووئیل چې دا کرایه ډیره کمه ده نو مسټر سپیکر صاحب! هغوی اولګیدل And they had a meeting over that and now the کرایه Will be increased up to I think probably یا 19668/- Let you read this, rent of the shops will be اوس به کرایه زیاتیږی، ولې به زیاتیږی څکه چې دا څه MCH سنټرې چې دی، دا د دې په دې کرایو باندې، په دې دکانونو باندې They are running on that، نو هغه کرایانې به زیاتې شی نودا سنټرې به پرې چلیږی۔ نو This is to do with that, nothing to do with the Social Welfare.

جناب سپیکر: میڈم!

محترمہ نجمہ شاہین: جی بس،اس پر میری بات-----

جناب سپیکر: میرے خیال میں میڈم نےClarifyکر دیاہے یہ جو-----

محترمہ نجمہ شاہین: ہاں جی،اس پر میری بات ان سے ہو چکی تھی لیکن یہ، شکریہ جناب۔

جناب سپیکر: اوکے۔ کوسچن نمبر2429، محترمہ آمنہ سردار۔ اچھا یہ منسٹر صاحب نے آج مجھے فون کیا تھااورانہوں نے ریکویسٹ کی تھی کہ آپ اس کو پینڈنگ رکھ لیں، میں اس کو پینڈنگ کرتا ہوں۔

محترمہ آمنہ سردار: ٹھیک ہے سر، تھینک یو۔

جناب سپیکر: پینڈنگ۔ کوئسچن نمبر 2444، عبدالکریم خان!

جناب عبدالکریم: شکریه جناب سپیکر صاحب۔ د دې جواب۔۔۔۔

جناب سپیکر: منسٹر صاحب کنسرنڈ Available نہیں ہیں اور انہوں نے ریکویسٹ کی تھی کہ اگر آپ اس کو پینڈنگ رکھ دیں، مجھے خود اس نے فون کیا تھا۔ آپ دیکھ لیں، میں اس کو پینڈنگ رکھتا ہوں، آپ کے دونوں کوئسچنز، اگر ایریگیشن ڈیپارٹمنٹ کے ساتھ ہیں۔

جناب عبدالکریم: ټهیک شوه جی۔ زه دا ریکارډ باندې درستګی کول غواړم د دې چې دا (ب) کښې جلبئی میره، جلسئی میره، لاهور میره، چونکه دیکښې څه زما پرې، د دې سوال نه زه مطمئن یمه۔ دغه زمونږ د علاقې ډیمانډ هم وو او امید دے چې څه زه غواړم، په ریکارډ باندې دغه خبرې څکه راوستل غواړم چې څه زه غواړم چې هغه وی، چې که په دیکښې آر ډیز نشته نو زه Cent percent نه یم خو بیا هم په دې جواب باندې زه تسلی کوم، تسلی مې ده۔

جناب سپیکر: پینڈنگ۔ کوئسچن نمبر 2445 هم Same۔۔۔۔

جناب عبد الکریم: شکریه جناب سپیکر۔ دې کوئسچن کښې ډیټیل ئے مونږ له راکړے دے، دا پیهور ایکسټنشن یو داسې سټیج له رسیدلے دے چې دا ټینډر ته نیزدے دے نو زما ډیپارټمنټ سره دا جهګړه روانه ده، دغه Stress مې دے چې Detailed designing او کنسټرکشن چې دا Simultaneously دا اوشی نو ان شاء الله دا پیریډ به کم شی او په دې به زر تر زره کار اوشی۔

جناب سپیکر: زما خیال دے په پانچ تاریخ باندې به زه دا واخلم چې دا مونږه Properly discuss کړو، ټهیک ده جی؟ په پانچ تاریخ به دا کوئسچن دغه کړئ تاسو۔

جناب عبدالکریم: ټهیک شوه جی۔

(شور اور قطع کلامیاں)

جناب سپیکر: جی منور خان صاحب! ایک منٹ، ایک منٹ، آپ تھوڑا حوصلہ کریں منور خان صاحب! ایک، یہ مجھے دے دیں۔۔۔۔

(شور اور قطع کلامیاں)

جناب سپیکر: آپ اس طرح کرلیں کہ میں چھٹیوں کی یہ کرلوں پھر اس کے بعد آپ کرلیں۔

جناب منور خان ایڈوکیٹ: جناب سپیکر!

جناب سپیکر: نہیں، میں آپ کو دیتا ہوں موقع نا، یہ کچھ چھٹیاں میں کرلوں پھر اس کے بعد۔

## اراکین کی رخصت

جناب سپیکر: یہ ڈاکٹر امجد علی، سپیشل اسسٹنٹ 02تا05 اکتوبر؛ راجہ فیصل زمان صاحب 02 اکتوبر؛ اعظم خان درانی، 02 اکتوبر؛ میڈم دینا ناز 02 اکتوبر؛ سردار سورن سنگھ 02 اکتوبر۔ فضل حکیم، انور حیات خان، میڈم نادیہ شیر، محمد شیراز خان، سردار محمد فرید، محمود خان بیٹنی، میاں ضیاء الرحمان، الحاج ابرار حسین صاحب، سردار ظہور احمد صاحب، حاجی صالح محمد، میڈم رومانہ جلیل 02تا06؛ میڈم انیسہ زیب 02-10؛ میڈم نرگس علی، میڈم نگہت یاسمین اورکزئی، میڈم فوزیہ بی بی 02تا05؛ چھٹیاں منظور ہیں جی؟

(تحریک منظور کی گئی)

جناب سپیکر: جی منور صاحب!

جناب منور خان ایڈوکیٹ: تھینک یو جی۔ اچھا ہوا کہ منسٹر ہائر ایجوکیشن بھی آ گئے ہیں۔ میں سر! آپ کی توجہ اور منسٹر صاحب کی توجہ اس طرف دلانا چاہتا ہوں سر کہ یہ پی ایم سکالر شپ ہے جس میں ٹانک، ڈیرہ، لکی اور فاٹا ملاکنڈ ڈویژن کیلئے سکالر شپس تھیں سر۔ یہ جناب سپیکر! پشاور، ایچ ای سی کی طرف سے سکالر شپس پشاور یونیورسٹی کے پاس گئی تھیں جس میں جو یونیورسٹی میں ہیں یا دوسرے کالجز میں ہیں، ان کیلئے سکالر شپس تھیں سر! لیکن بڑے افسوس کے ساتھ مجھے یہ کہنا پڑتا ہے کہ پشاور یونیورسٹی نے یہ ساری سکالر شپس ایچ ای سی کو واپس کر دی ہیں، تو میں ذرا جناب سپیکر صاحب! منسٹر صاحب سے یہ وضاحت چاہتا ہوں کہ یہ یونیورسٹیوں میں جو سٹوڈنٹس ہیں، کالجز میں ہیں، دوسری یونیورسٹیوں میں بچے پڑھ رہے ہیں اور وہ اس یونیورسٹی والوں نے کم از کم اتنا نہیں کیا کہ ایڈورٹائز کرتے اور یہ بچے Applications دیتے اور اس سکالر شپ سے فائدہ لیتے، تو میں جناب منسٹر صاحب سے یہ پوچھتا ہوں کہ پشاور یونیورسٹی والوں سے کم از کم یہ پوچھیں کہ انہوں نے سکالر شپس واپس کیوں کیں سر؟ پی ایم، پرائم منسٹر یہ سکالر شپس دے رہے ہیں۔۔۔۔۔

جناب سپیکر: مشتاق غنی صاحب!

جناب منور خان ایڈوکیٹ: اور وہ انہوں نے واپس کر دی ہیں۔ تھینک یو سر۔

جناب سپیکر: مشتاق غنی صاحب!

جناب مشتاق احمد غنی (وزیر برائے اعلیٰ تعلیم): تھینک یو جناب سپیکر صاحب۔ فاضل ممبر صاحب نے جو نشاندہی کی ہے، میں اس کو Inquire کروں گا۔ یہ کسی یونیورسٹی کو حق نہیں پہنچتا کہ اگر ان کو سکالر شپس ملیں For the students اور وہ پراپر ٹائم پر اس کو، اس کا پروسیجر کمپلیٹ نہ کر سکے اور ان کو واپس بھیج دیں، میں اس کی انکوائری کر کے ان شاء اللہ اس ایوان کے اندر رپورٹ پیش کر دوں گا۔

## توجہ دلاؤ نوٹس ہا

Mr. Speaker: Call Attentions, item No. 8, Mr. Zarin Gul MPA, please, Mr. Zarin Gul.

جناب زرین گل: شکریہ محترم سپیکر صاحب، کال اٹینشن 617۔ میں آپ کی توجہ ایک اہم مسئلے کی طرف مبذول کروانا چاہتا ہوں، وہ یہ کہ حکومت نے سال 2012 میں غیر قانونی طور پر کاٹی گئی جنگلات کی لکڑی پر 20 فیصد حکومتی حصہ مقرر کیا تھا جبکہ مورخہ 15-06-2015 کو ہونے والے صوبائی کابینہ کے اجلاس میں یہ فیصلہ کیا گیا کہ مذکورہ لکڑی میں سے ضلع تورغر میں حکومتی حصہ 40 فیصد ہوگا کیونکہ ضلع تورغر اس سے پہلے ضلع مانسہرہ کا ایک حصہ تھا جس کو بعد میں ضلع کا درجہ دیا گیا ہے، لہذا ضلع تورغر کیلئے حکومتی حصہ 40 فیصد مقرر کرنا زیادتی ہے کیونکہ اہل علاقہ یہ برداشت نہیں کر سکتے، لہذا گزارش کی جاتی ہے کہ حکومت کی وضع کردہ مندرجہ پالیسی پر نظر ثانی کر کے پچھلی حکومتی فیصلے کے مطابق موجودہ حصہ بھی 20 فیصد مقرر کیا جائے اور علاقے کے لوگوں کے ساتھ انصاف کیا جائے تاکہ لوگوں کے اندر پائی جانے والی بے چینی ختم ہو سکے۔

جناب سپیکر: اشتیاق!

جناب زرین گل: محترم سپیکر صاحب!

جناب سپیکر: زما خیال دے، آپ کی بات بالکل سمجھ آ گئی ہے پوری، اشتیاق ارمڑ، اشتیاق ارمڑ! آپ اس کو۔۔۔۔۔

سید محمد اشتیاق (معاون خصوصی برائے ماحولیات): بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَـٰنِ ٱلرَّحِيمِ۔ جناب سپیکر، دیکښې چې دا کوم Protected forest ذکر شوے دے، په دیکښې 80 پرسنټ د ګورنمنټ وو، 20 پرسنټ د ګورنمنټ وو، 80 پرسنټ د مقامی خلقو وو خو دا چې کوم طرف ته اشاره کوی چې کوم کیبنټ کښې په 2015 کښې کومه فیصله شوې

ده، ما زرین گل صاحب ته اووئیل، په هغې کښې یو سب کمیټی جوړه شوې وه، زمونږه ایم پی گان پکښې ناست وو چې کوم د دغه علاقو سره تعلق ساتی چې کوم دا ځنگلات دی، نو په هغې دا فیصله شوې وه چې یره 40، خو په دې باندې اوس مونږه Sure نه یو او دا فیصله لا هغه ځائې ته نه ده رسیدلې۔ ما زرین گل صاحب ته دا ریکویسټ کړے دے چې اوس پندره ورځې پس چې مونږ یو بله سب کمیټی ده، د هغې اجلاس دے او هغې کښې زرین گل صاحب ما راغوښتلے دے چې تاسو کښینئی او دا مسئله پکښې ډسکس کړو ان شاء الله او چې کوم مخکښې فیصله شوې ده، په هغې باندې به مونږ واپس راځو۔ ٹھیک شو جی۔

جناب سپیکر: اوکے۔ مسٹر زرین گل۔ شاہ حسین صاحب!

جناب شاہ حسین خان: سپیکر صاحب! یہ نلوٹھا صاحب بیٹھے ہیں، یہ پیش کر لیں گے، نلوٹھا صاحب پیش کریں۔

جناب سپیکر: جی، نلوٹھا صاحب، اورنگزیب نلوٹھا۔

سردار اورنگزیب نلوٹھا: شکریہ جناب سپیکر صاحب۔ ہم اس معزز ایوان کی توجہ ایک اہم مسئلے کی طرف مبذول کروانا چاہتے ہیں، وہ یہ ہے کہ رائٹ ٹو انفارمیشن ایکٹ کے تحت مختلف محکمہ جات غلط معلومات فراہم کر کے عوام کو گمراہ کر رہے ہیں جس کی مثال محکمہ انتظامیہ کی حال ہی میں گھروں کی الاٹمنٹ کے ضمن میں دی گئی معلومات کے تحت صوبائی اسمبلی کے غریب ملازم مالی کے نام گھر کی الاٹمنٹ ستمبر 2014 میں کی گئی لیکن تاحال نہ اس کو گھر الاٹمنٹ کا آرڈر موصول ہوا اور نہ ہی محکمہ اس کو یہ گھر دینے کیلئے تیار ہے۔ باوجود اس کے کہ یہ بھی معلومات سامنے آئی ہیں کہ محکمہ کے کچھ اہلکار گھر دوسرے افراد کے نام ظاہر کر کے کرایہ پر دیتے ہیں۔ جناب سپیکر! یہ گھر اب بھی خالی پڑا ہے اور رائٹ ٹو انفارمیشن کے تحت دی گئی معلومات میں اس کا نام محکمہ وغیرہ صاف ظاہر ہے، جو لف ہے۔ لہذا حکومت اسے کمیٹی کے حوالے کرے تاکہ رائٹ ٹو انفارمیشن کے تحت غلط معلومات دینے والوں کا محاسبہ کیا جائے، نیز رائٹ ٹو انفارمیشن کمیشن کو بھی اس کا نوٹس لینا چاہیئے تاکہ محکمہ جات جان بوجھ کر غلط معلومات فراہم کر رہے ہیں، اس کے خلاف تادیبی کارروائی کی جائے، کارروائی ممکن بنائے اور نیز غریب مالی کو یہ گھر الاٹ کر کے آرڈر اسمبلی سیکرٹریٹ ارسال کیا جائے۔

جناب سپیکر! اس مالی کا نام یوسف ہے جس کے نام پر گھر الاٹ ہوا اور ابھی تک اس کو یہ گھر نہیں دیا گیا۔

جناب سپیکر: مشتاق غنی صاحب!

وزیر برائے اعلیٰ تعلیم: جناب سپیکر! یہ غلطی سے اسمبلی سیکرٹریٹ میں اس کے اوپر انفارمیشن ڈیپارٹمنٹ لکھ دیا ہے جبکہ یہ ایڈمنسٹریشن ڈیپارٹمنٹ کا کام تھا اور ان سے Related ہے لیکن ابھی مجھے یہاں پر جواب اس کا ملا ہے۔ اس میں ایسا ہے کہ کوارٹر نمبر P-112 اور کوارٹر نمبر F 4 ہزار خوانی کالونی کے تبادلے کے وقت مسمی یوسف خان اور مسمی نجم الدین نے ایک مشترکہ درخواست دی تھی جس میں مسمی یوسف خان جو ہیلتھ ڈیپارٹمنٹ کا نائب قاصد ہے، نے اپنا عہدہ اور محکمہ غلط درج کیا، بعد میں جب مندرجہ بالا کوارٹر کے تبادلے کا آرڈر منظور ہوا، بہرکیف اس کو ڈیٹیل سے پڑھنے کی میرے خیال میں ضرورت نہیں ہے، آپ نے جیسے کہا ہے، اس کو آپ بالکل کمیٹی کے حوالے کر دیں تاکہ Probe ہو کہ یہ غلطی کیوں ہوئی ہے؟

جناب سپیکر: ٹھیک ہے۔

محترمہ نجمہ شاہین: جناب سپیکر!

جناب سپیکر: ایک منٹ جی، ایک چیز تو ختم کر لوں نا۔ Is it the desire of the House that the call attention notice, moved by the honourable Member, may be referred to the concerned Committee? Those who are in favour of it may say 'Yes' and those who are against it may say 'No'.

(The motion was carried)

Mr. Speaker: The 'Ayes' have it.

(Interruption)

جناب سپیکر: یو منٹ، میڈم! آپ بیٹھ جائیں تھوڑا۔ سکندر خان! میں یہ ایجنڈا پورا کر کے پھر آپ کو موقع دیتا ہوں۔

## مسودہ قانون (ترمیمی) بابت خیبر پختونخوا سول سرونٹس مجریہ 2015 کا متعارف کرایا جانا

Mr. Speaker: Agenda item No. 09, Minister for Law.

Mr. Imtiaz Shahid (Minister for Law): Mr. Speaker Sir, I, on behalf of the honourable Chief Minister, introduce the Khyber Pakhtunkhwa, Civil Servants (Amendment) Bill, 2015, in the House.

Mr. Speaker: The Bill stands introduced.

مسودہ قانون (ترمیمی) بابت خیبر پختونخوا پراونشل سروسز اکیڈمی مجریہ 2015 کا متعارف کرایا جانا

Mr. Speaker: Item No. 10, Minister for Law.
Minister for Law: Janab Speaker, I, on behalf of the honourable Chief Minister, introduce the Provincial Services Academy Khyber Pakhtunkhwa, (Amendment) Bill, 2015, in the House.
Mr. Speaker: The Bill stands introduced.

مسودہ قانون بابت خیبر پختونخوا ہیلتھ فاؤنڈیشن مجریہ 2015 کا متعارف کرایا جانا

Mr. Speaker: Item No. 11, the Senior Minister for Health. Law Minister, please.
Minister for Law: Mr. Speaker Sir, I, on behalf of the Minister for Health, introduce the Khyber Pakhtunkhwa, Health Foundation Bill, 2015, in the House.
Mr. Speaker: The Bill stands introduced.

مسودہ قانون (ترمیمی) بابت خیبر پختونخوا جرنلسٹس ویلفیئر انڈومنٹ فنڈ مجریہ 2015 کا متعارف کرایا جانا

Mr. Speaker: Item No. 12. The honourable Minister for Information, please.
جناب مشتاق احمد غنی (وزیر اطلاعات): جناب سپیکر، میں The Khyber Pakhtunkhwa, Journalists Welfare Endowment Fund (Amendment) Bill, 2015 کو ایوان میں پیش کرتا ہوں۔
Mr. Speaker: The Bill stands introduced.

مجلس قائمہ برائے ہاؤسنگ اینڈ لائبریری کی رپورٹ کا پیش کیا جانا

Mr. Speaker: Item No. 13, Malik Riaz, MPA.
Malik Riaz Khan: Mr. Speaker, I beg to present the report of the Standing Committee No. 4 on Housing & Library in the House.
Mr. Speaker: The report is presented.

مجلس قائمہ برائے ہاؤسنگ اینڈ لائبریری کی رپورٹ کا منظور کیا جانا

Mr. Speaker: Item No. 14, Malik Riaz, MPA.

<u>Malik Riaz Khan</u>: Mr. Speaker, I beg to move that the report of the Standing Committee No. 4 on Housing & Library may be adopted.

<u>Mr. Speaker</u>: The motion before the House is that the report of Standing Committee No. 4 on Housing & Library may be adopted? Those who are in favour of it may say 'Yes' and those who are against it may 'No'.

(The motion was carried)

<u>Mr. Speaker:</u> The 'Ayes' have it. Item No., okay. Sikandar Khan, please, Sikandar Khan.

(Interruption)

<u>جناب سپیکر</u>: اس کے بعد میں اس کو۔

## قاعدہ کا معطل کیا جانا

<u>جناب سکندر حیات خان</u>: سپیکر صاحب، ستاسو ډیره مهربانی جی۔ زه سپیکر صاحب، یو قرارداد پیش کول غواړمه، د هغې مقاصد به تاسو ته بیان کړمه او د هغې نه پس به د رولز د سسپنشن د پاره اجازت اوغواړمه۔ بنیادی طور باندې که تاسو اوګورئ نو زمونږه د صوبې ډیر خلق چې دی، هغه د مزدورئ د پاره مختلف ممالک ته تلی دی او هلته کښې هغوی د خپلو بچو د پاره او د دې ملک د پاره مزدوری کوی او ډیر په سختو حالاتو کښې هلته کښې ژوند تیروی او د دې ملک معیشت هم چلوی ځکه چې فارن ایکسچینج هم د هغوی د وجې نه دلته کښې راځی لګیا دے۔ دا وروستو یو څو ورځو کښې فیډرل ګورنمنټ یو ټیکس لګولے دے چې دا کوم پاکستانیان واپس راځی نو په هغوی باندې Per passenger اته نهه سوه روپئی ټیکس ئے لګولے دے۔ زه دا ګڼړمه چې پکار دا ده چې مونږه خو دغه خلق Facilitate کړو چې دوئ هلته کښې ځی او زمونږه معیشت دومره سپورټ کوی او الټا چې واپس راشی نو هسې هم که اوګورئ نو په ائیرپورټ باندې د هغوی سره رویه هم نامناسب وی او ډیر خلق دا شکایت کوی چې هغوی سره دغه شان دغه نه کیږی، ښه برتاؤ نه کیږی۔ نو پکار خو دا ده چې مونږه ئے Facilitate کړو، د هغې په ځائې مونږه پرې ټیکسونه لګوؤ لګیا یو، نو دغه حوالې سره ما یو قرارداد دغه کړے دے، که ستاسو اجازت وی نو زه به د رولز سسپنشن د پاره دغه اوکړم۔ Mr. Speaker Sir, I beg to move that

under rule 240, rule 124 may be suspended and I may be given the chance to present the resolution.

<u>Mr. Speaker</u>: Is it the desire of the House that rule 124 may be relaxed under rule 240, to allow the honourable Members to move their resolution? Those who are in favour of it may say ‘Yes’ and those who are against it may say ‘No’.

(The motion was carried)

<u>Mr. Speaker:</u> The ‘Ayes’ have it. Please.

## قرارداد

<u>جناب سکندر حیات خان</u>: مسټر سپیکر سرا! دا قرارداد چې دے، په دې باندې د لاء منسټر صاحب، امتیاز شاهد صاحب هم دستخط کړے دے، د جے یو آئی ایف طرف نه شاه حسین خان کړے دے، د اے این پی طرف نه جعفر شاه صاحب کړے دے، د پیپلز پارټۍ طرف نه سلیم خان کړے دے، د جماعت اسلامی طرف نه سعید ګل صاحب کړے دے، د شهرام خان د طرف نه محمد علی خان دستخط پرې کړے دے او بخت بیدار خان او زما هم پرې دستخطې دی۔

یہ صوبائی اسمبلی مرکزی حکومت سے سفارش کرتی ہے کہ حالیہ دنوں بیرون ملک مقیم پاکستانیوں پر جو ائیرپورٹ ٹیکس لگایا گیا ہے، اسے ختم کیا جائے کیونکہ بیرون ملک مقیم پاکستانی محنت مزدوری سے اربوں روپے کما کر پاکستان بھیجتے ہیں جس سے پاکستان کافی بڑی تعداد میں زر مبادلہ کماتا ہے اور ملک کی معیشت کو تقویت مل رہی ہے۔ان پاکستانیوں سے ائیرپورٹ ٹیکس لینا زیادتی ہے کیونکہ ان میں زیادہ تر کا تعلق غریب اور مزدور کار طبقے سے ہے، لہذا اس ٹیکس کو ختم کیا جائے۔

<u>جناب سپیکر</u>: دا سکندر خان چې کوم ریزولیوشن پاس کړو، تاسو ته چې پیش کړو، ستاسو د ټولو اتفاق دے ورسره؟

<u>اراکین</u>: یس۔

<u>جناب سپیکر</u>: بس پاس شو، متفقه طور باندې پاس شو۔

<u>منور خان ایڈوکیٹ</u>: یس اووئیلې شو۔

<u>جناب شاه حسین خان</u>: یس ئے ورته اووئیل کنه۔

<u>جناب سپیکر</u>: لیس۔ (قہقہہ) جی، ابھی میں ثناء اللہ صاحب، ثناء اللہ۔۔۔۔

محترمہ آمنہ سردار: سر! پہلے میری ایک گزارش ہے۔

جناب سپیکر: آپ پلیز، آپ تو بیٹھ جائیں نا، آپ طریقے سے، ثناء اللہ صاحب! سب سے پہلے ہم آپ کو ویلکم کرتے ہیں اور میں موقع دینا چاہتا ہوں کہ آپ بات کر لیں۔

صاحبزادہ ثناء اللہ: اَعُوذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیطٰنِ الرَّجِیمِ۔ بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیمِ۔ جناب سپیکر! جناب وزیر اعلیٰ صاحب موجود خو نشته دے ، جناب قائد حزب اختلاف او د دې معزز ایوان د اراکینو زه د زړه د اخلاص نه ستاسو شکریه ادا کوم او زه د خپلې حلقې د سلطان خیل، پائنده خیل قوم د طرف نه هم ستاسو شکریه ادا کوم چې تاسو زما په ډیر پرتپاک طریقه باندې استقبال اوکړو۔ چونکه جناب سپیکر، زمونږ دا حلقه PK-93 دا د 40 ,38 سال نه هم د یوې پارټۍ او د یو جماعت سره راراوانه وه، جناب سپیکر، زما دلته په راتلو باندې دا زما نه، دا د پاکستان تحریک انصاف، دا د عوامی نیشنل پارټۍ، دا د پاکستان مسلم لیگ نواز او په دغې کښې د جمعیت علماء اسلام، د قومی وطن پارټۍ او د هغه ټولو پارټو چې څومره هلته دی او د جماعت اسلامی هم هغه نظریاتی کارکنانو زه شکریه ادا کوم چې چا زما په کامیابۍ کښې او زما د غریب غوندې دې ایوان ته رارسیدو باندې خپلې هلې ځلې کړی دی۔ جناب سپیکر، زه هم په دې یوه فارموله باندې به ان شاء اللّٰه تعالیٰ ستاسو سره په دې ایوان کښې متفق یم، " وَتَعَاوَنُوْا عَلَي الْبِرِّ وَالتَّقْوٰی وَلَا تَعَاوَنُوْا عَلَي الْاِثْمِ وَالْعُدْوَانِ"۔ جناب سپیکر، دا حلقه دومره پسمانده حلقه ده او که زه دا اووایمه نو دا حلقه PK-93 دا د خیبر پختونخوا د ټولو نه بدقسمته حلقه هم ده ځکه چې جناب سپیکر! په دې ایوان کښې ناست د ټولو حضراتو په علم کښې زه دا خبره راولم چې دې حلقې ته چې د کله نه دا دیر آزاد شوے دے او پاکستان کښې ضم شوے دے، د 1960 نه او په 1970 کښې انتخابات شروع شوی دی جناب سپیکر! دې لا تر ننه ورځې پورې د خپل صوبې وزیر اعلیٰ نه دے لیدلے ، یعنی دا داسې حلقه ده چې دې ته تر اوسه پورې د دې صوبې وزیر اعلیٰ صاحب تشریف نه دے وړے۔ زه د دې معزز ایوان په ذریعه باندې هغوی ته هم درخواست کوم چې جناب سپیکر! وزیراعلیٰ صاحب د مهربانی اوکړی او هغه 'نو گو ایریا' چې کومه دیر وو او PK-93 وه، هغه ختمه

شوې ده، هغه دیوار برلن چې کوم زما د دیر د دغې حلقې او د صوبې په مینځ کښې حائل وو، دغه عوامو په متفقه طور باندې هغه رارغړولے دے، ختم کړے ئے دے نو زه دا هغوی ته درخواست کوم چې د ټولونه په اولنی فرصت کښې، زه حاضر یم، خدمت به ئے زه کوم، میلمستیا به ئے زه کوم او د پی ټی آئی کارکنان به ئے استقبال کوی۔ جناب سپیکر، زما هیڅ څه مقصد نور نشته دے خو زما د دغه حلقې (تالیاں) چې کومه حلقه د ډیر وخت نه د چا په اختیار کښې وه جناب سپیکر! که زه تاسو ته د هغوی د هیلتھ په حواله خبره کوم جناب سپیکر! هلته یو کټیګری ډی هسپتال دے او په هغه کټیګری ډی هسپتال کښې څوارلس Sanctioned پوسټونه دی خو جناب سپیکر! لا تر اوسه پورې هغه قوم چرته سپیشلسټ ډاکټر نه دے لیدلے۔ جناب سپیکر، که زه د هغې تعلیمی حالت باندې خبره کوم نو هلته چې څومره سکولونه دی نو په هغه سکولونو کښې هیډماسټران نشته دے، سبجیکټ سپیشلسټان پکښې نشته دے۔ جناب سپیکر، زه دا خبره کوم چې هلته مونږه د دریائے پنجکوړه چې هغه زما د دې حلقې په مینځ کښې بهیږی، هغه زمونږه زمکې وړی خو د هغې نه زمونږه زمکې سیراب کیږی نه، دومره Potential هلته شته دے جناب سپیکر! چې ان شاء الله و تعالیٰ چې دریائے پنجکوړه باندې هائیډل پاور جوړیږی نو د ټولې صوبې بجلی هم پوره کولے شی خو جناب سپیکر! زه دا یو خبره کوم چې کوم جماعت چې هغه د خوشحال پاکستان او اسلامی پاکستان خبره کوی جناب سپیکر! نه د هغه حلقې عوام، د دیر عوام خوشحاله دی او نه ئے اسلام په سترګو اولیدو، زه وایم جناب سپیکر!۔۔۔۔

(تالیاں)

جناب سپیکر: ثناء الله صاحب! ان شاء الله تا له به پوره موقع درکوؤ ستا چې څومره د اسمبلئ دغه دے، بزنس دے او زه به دا غواړمه چې ته دا ایشوز باقاعده د ایډجرنمنټ موشن په تهرو باندې، د کال اټینشن په تهرو باندې په مختلفو طریقو باندې ته راولے نو ان شاء الله مونږ به ئے دغه کوؤ۔

صاحبزادہ ثناءاللہ: بې شکه سر، ان شاء الله، بالکل سر، بالکل سر۔

جناب سپیکر: جی جی۔

صاحبزادہ ثناءاللہ: جناب سپیکر! دا ما ته پته ده، دا ما ته پته ده چې هغوی ستاسو، جناب سپیکر! ما ته پته ده چې هغوی ستاسو اتحادیان دی، هغوی چې څومره زور کړے دے په ما باندې جناب سپیکر! ما، هغه بله ورځ ټیلر زما د کپړو ناپ اخستو نو یوه انچه زما دا سینه کمه شوې ده (قہقہہ) جناب سپیکر! ځکه چې یو طرف ته حکومت وو جناب سپیکر او بل طرف ته خالی لاسونه وو خو جناب سپیکر، زما دا یو ریکویسټ دے چې کومې وعدې خلقو سره کړی دی خو جناب سپیکر، هغه وزراء صاحبان زه اوس په سکرین نه وینم په دې ایوان کښې، رابه شی ان شاء الله و تعالیٰ تر څو به بهر وی جناب سپیکر! نو کومې وعدې چې خلقو سره کړی دی جناب سپیکر! اوس هغه خلق راځی، زما دروازه ټکوی چې ته خو یعنی اوس نمائنده شوې، نو ما نه هغه سکیمونه غواړی نو جناب سپیکر! زما به دا یو درخواست وی چې په اے ډی پی کښې کومه حصه شامل وی نو هغه خو د هغې حلقې حق دے، هغه خو ورکول په تاسو باندې فرض عین دی، په حکومت باندې ورکول د هغې فرض عین دی خو جناب سپیکر! چې کومې وعدې وزیرانو صاحبانو کړی دی، خیر دے که ما ته نور څه نه راکوی، هغه وعدې چې کومې شوی دی، هغه د پوره کړی نو جناب سپیکر! زما دا یقین دے ان شاء الله و تعالیٰ چې زما دغه PK-93 به د پیښور مقابله اوکړی خو که په حقیقت کښې هغه وعدې رښتیا شی۔ (تالیاں) جناب سپیکر! زه ستاسو۔۔۔۔

جناب سپیکر: هسې زه یو تپوس کوم، دا نجم الدین خان چې دے، ستاسو دې ډسټرکټ کښې دے که بل ډسټرکټ کښې وو؟

صاحبزادہ ثناءاللہ: دا یو ډسټرکټ دے جناب سپیکر۔

جناب سپیکر: اوکے۔

صاحبزادہ ثناءاللہ: دا یو ډسټرکټ دے، هغه زما د حلقې ایم این اے پاتے شوے دے جناب سپیکر! خو زما خیال دے چې پاکستان جوړ شوے دے او دیر آزاد شوے دے سر جی، نو تر ننه پورې یو ځل نجم الدین خان هغوی لیدلے دے او هغه حالات تاسو نه څه پټ نه وو چې څوک ښکاره کیدے نشو او هر طرف نه د ګولو

او د دغو بارانونه وو د خودکشو نو جناب سپیکر! هغوی چې کوم څه کړی دی ان شاء الله تعالیٰ، هغه هم د چا نه پټ پناه نه دی، دا هم د هغې خبرې نتیجه ده چې نن زه ستاسو په دې معزز ایوان کښې زما غوندې یو غریب هم ستاسو مخامخ ولاړ دے۔ جناب سپیکر، زه د هغه ټولو پارټو جناب سپیکر! د زړه د اخلاص نه شکریه ادا کوم چې هغوی ستاسو د دې چیف ایکزیکټیو د هدایاتو هم هغه کارکنانو ستاسو پرواه نه وه کړې خو هغه پرواه جناب سپیکر! چې نه وه کړې نو چې ستاسو کوم نصب العین دے، د پی ټی آئی کوم نصب العین چې بدلی راوستل غواړی نو زما خیال دے چې د پاکستان تحریک انصاف مشرانو نه، د پاکستان تحریک انصاف کارکنانو د هغې ملګرتیا کړې ده، د خپل دغه منشور ملګرتیا ئے کړې ده او جناب سپیکر، د پاکستان مسلم لیګ کارکنانو خبره که اوکړم چا چې پاکستان جوړ کړے دے-----

(عصر کی اذان)

جناب سپیکر: جی ثناء اللہ صاحب!

صاحبزادہ ثناء اللہ: جناب سپیکر! ما خبره د هغه پارټو کوله چې جے یو آئی، جمعیت علماء اسلام د هغې هم شکریه ادا کوم جناب سپیکر! چې هغه علماء حق دی، هغوی په دین باندې پوهیږی نو په دې وجه باندې هم هغوی زمونږه ملګرتیا کړې دې جناب سپیکر۔ (تالیاں) زه د قومی وطن پارټۍ هم شکریه ادا کوم چې د هغې کارکنانو هم زما ملګرتیا کړې ده خو جناب سپیکر! د عوامی نیشنل پارټۍ "خپله خاوره خپل اختیار"-----

جناب سپیکر: شاه حسین پکښې جوړې علماء حق، د ده خبره ئے اوکړه کنه،

(قہقہہ)

صاحبزادہ ثناء اللہ: جناب سپیکر، زه د عوامی نیشنل پارټۍ چې "خپله خاوره او خپل اختیار"، هغوی هم په دغه خپله فارموله باندې عمل کړے دے جناب سپیکر! خو زه دا یو خبره جی کوم چې دا ټولې پارټۍ په دې یوې ایجنډې باندې دی چې آزادی ئے غوښته، آزادی ورته ملاؤ شوه ځکه چې هلته دا ایوان ګواه دے، زه دا هغوی باندې تنقید نه کول غواړمه، کوم ملګری چې زما نه مخکښې دې ایوان

ته راغلي دی، زه په هغوی تنقید نه کوم خو جناب سپیکر! زه دا یو خبره کوم چې د هغوی د هغه هڅ د هرمئ د لاسه چې اپر دیر کښې جناب سپیکر، صرف او صرف په یوه فارموله باندې عمل کیږی چې که د تحریک انصاف کارکن خپلې پارټئ ته ووټ ورکوی او د جماعت اسلامی، زه ډیر په ادب باندې دا عرض کوم چې زما هغه ورور د په دې جماعت اسلامی، زه پکښې پاتے شوے یم، ما ته معلوم دی په دغې یوه فارموله باندې دا ټول خلق عمل کوی، که د یوې خپلې، د جماعت اسلامی نه علاوه بل څوک چا له ووټ ورکوی نو جناب سپیکر، زمونږ د غرونو چې کوم د پولیس چوکئ دی نو هغه بیا د هغه خلقو انتظار کوی جناب سپیکر! زه دا یو خبره کوم که استاذ هلته چرته د بلې پارټئ خبره کوی، چرته پټ شانتې غریب ووټ استعمال کړی نو جناب سپیکر، د هغه ځائې بیا د کوهستان هغه دنگ دنگ غرونه وی او هغه د بن شاهی هغه غرونه وی، جناب سپیکر! زه ډیر په ادب سره دا عرض کوم چې اوس دا دور بدل شوے دے، وخت بدل شوے دے، اوس الحمد للّٰہ د دیر په خلقو کښې شعور راغلے دے او هغه شعور، هغه خو بهادران خو د مخکښې نه وو، تکړه خو مخکښې نه وو خو جناب سپیکر، وائی کله چې د سلو منزرو ګیدړ مشر وی نو نمائندګی به د ګیدړ وی، منزری پناه وی، خو چې کله د سلو ګیدړو یو منزرې مشر وی نو خوئ بیا د منزرو کوی، نو ان شاء اللّٰہ و تعالیٰ دا زه یو خبره کوم ان شاء اللّٰہ و تعالیٰ دا به ثابتوم چې ان شاء اللّٰہ و تعالیٰ د دیر غیور عوام به دا بدلئ خامخا راولی، هغه ورونړه مې د په دې خبره نه خفه کیږی خو جناب سپیکر! چې د دې صوبې کوم وسائل، په دې ضمنی انتخابات کښې کومه په بې دردئ سره خرچ شوی دی جناب سپیکر، دا وزیران صاحبان خبر نه یم چې چهتی به ورپسې تاسو لګولې وی او که نه به مو وی، هغوی خو دا Campaign په دې دنګو دنګو غرونو کښې کړے وو، ځان ئے ستړے کړے وو، دا پولیس غریبانان به ورځ او شپه د هغوی په ډیوټو باندې مامور وو، زمونږ عوام ایف آئی آر ته هم څوک تیار نه وو جناب سپیکر! خو اللّٰہ رب العزت رحم کړے دے جناب سپیکر! او نن زما د دیر په خلقو او د PK-93 خلقو یوم نجات مناؤ کړے دے تاسو ته به پته وی جناب سپیکر، یوم نجات ئے مناؤ کړے دے۔

جناب سپیکر: ثناء اللہ صاحب! د مونږ ټائم هم نیزدے دے او مختصر خبره به، خپله خبره مختصر کړه، پلیز۔

صاحبزادہ ثناء اللہ: بس خبره جی ختموم، مونږه به ان شاء اللہ و تعالیٰ جی د دیر، او خلق به ان شاء اللہ و تعالیٰ هر کال، هر کال به ان شاء اللہ یوم نجات مناؤو جناب سپیکر، په 15 ستمبر باندې، په 15 ستمبر باندې۔۔۔۔

جناب سپیکر: دا چونکه، Basically نه دا چې دے ثناء اللہ صاحب! دا۔۔۔۔

صاحبزادہ ثناء اللہ: بس خپله خبره ختموم جناب سپیکر! ما خو ډیر څه ځان سره راوړی دی خو که ژوند وو او مرګ۔۔۔۔

جناب سپیکر: ټهیک ده ان شاء اللہ و تعالیٰ اسمبلئ کښې چې دے کنه د اسمبلئ د بزنس مطابق به خبره کوئ، مونږ تا ته ویلکم کوؤ، مونږ خوش آمدید وایو او مونږ دا توقع کوؤ چې ته به د اسمبلئ بزنس کښې پوره پوره Role به Play کوې او د دیر د عوامو د پاره به جدوجهد کوې۔ شکریه تهینک یو۔ یہ اجلاس پانچ اکتوبر کیلئے ملتوی کرتاہوں۔

---

(اجلاس بروز سوموار مورخہ 05اکتوبر 2015ء بعداز دوپہر تین بجے تک کیلئے ملتوی ہوگیا)

# ضمیمہ

## حلف وفاداری رکنیت

بِسۡمِ ٱللهِ ٱلرَّحۡمَـٰنِ ٱلرَّحِیمِ۔

میں،۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔صدق دل سے حلف اٹھاتا ہوں کہ

میں خلوص نیت سے پاکستان کا حامی اور وفادار رہونگا:

کہ بحیثیت رکن صوبائی اسمبلی خیبر پختونخوا، میں اپنے فرائض و کارہائے منصبی ایمانداری، اپنی انتہائی صلاحیت اور وفاداری کے ساتھ اسلامی جمہوریہ پاکستان کے دستور، قانون اور اسمبلی کے قواعد کے مطابق، اور ہمیشہ پاکستان کی خودمختاری، سالمیت، استحکام، یکجہتی اور خوشحالی کی خاطر سرانجام دونگا:

کہ میں اسلامی نظریہ کو برقرار رکھنے کیلئے کوشاں رہونگا جو قیام پاکستان کی بنیاد ہے:

اور یہ کہ میں اسلامی جمہوریہ پاکستان کے دستور کو برقرار رکھونگا اور اس کا تحفظ اور دفاع کرونگا:

[ اللہ تعالیٰ میری مدد اور رہنمائی فرمائے (آمین)]